بسم الله الرحمن الرحیم

**حزب التحریر- ولایه ترکیه «موږ ختیځ ترکستان یوازې نه پرېږدو» تر عنوان لاندې لاریون وکړ**

د چین وحشي رژیم په ختیځ ترکستان کې د لسیزو راپدېخوا اشغال شوي ترکستان کې له ځنډ پرته خپلو وژنو او وحشت ته دوام ورکوي. د چین حکومت میلیونونه اېغوري مسلمانان هغوی ته د زده کړو ورکولو په بهانه په کمپونو کې بندیان کړي او پر وړاندې یې له شکنجو څخه د وسلو په توګه ګټه اخلي او غواړي چې د ختیځ ترکستان مسلمانان له خپل اسلامي هویت څخه واړوي.

د مسلمانانو د اوسنیو واکمنانو چوپ پاتې کېدل او حتی د ځینو بشپړ ملاتړ د دې لامل شوی چې د مسلمانانو پر وړاندې د ظالمو کمونستانو تېری نور هم ډېر شي. د چین ظالم حکومت د ساري ناروغۍ په پلمه د اېغور د مسلمانانو پر وړاندې ستر بشري جنایتونه ترسره کوي.

په ختیځ ترکستان او په ځانګړي ډول «غلجه» ښار کې اېغوریان په میاشتو میاشتو د ټولو دروازو تر شاه په خپلو کورنو کې بندیان شوي دي. هغه ویډیو چې له یادې سیمې خپره شوې، ښیي چې ډېری هغه مسلمانان چې د خپلو لومړنیو اړتیاو په ځانګړي ډول خوراکي توکو او درملو د تر لاسه کولو اجازه نه لري، له سختې لوږې سره مخ دي. همدارنګه ځینې نور هغه کمزوري اېغوري ماشومان چې د ډوډۍ له کمښت سره مخ دي، په خپلو کورونو کې مړه کېږي.

حزب التحریر-ولایه ترکیه د استانبول او انقرې په ښارونو کې د محمد الفاتح او حاجي بایرام مسجدونو مخې ته دوه لاریونونه ترسره کړل، ترڅو د چین د ظالم حکومت د جرمونو پر وړاندې په ختیځ ترکستان کې د خپلو مسلمانو ورونو ننګه او ملاتړ وکړي. د یادو لاریونونو بله موخه د ترکیې او په ځانګړي ډول د نورو اسلامي هېوادونو پر واکمنانو باندې غږ کول و، ترڅو د اېغور د مسلمانانو پر وړاندې پر روان ظلم خپله چوپتیا ماته او د ختیځ ترکستان له مسلمانانو څخه ملاتړ اعلان کړي.

**۱۴۴۴هـ.ق د صفر میاشتې ۲۰مه**

**۲۰۲۲ م کال د سپټمبر ۱۶مه**